نورمحمد لاهو ۲۰۲۲/۱۰/۲۹

چې ته نه یې

چې ته نه یې

په یو تک تور تباشیر توري تختې باندې رسمیږم

چې ته نه یې

له دې ژونده لکه سیوری دیوالو شاته پټیږم.

چې ته نه یې

د هرکور دروازه کولپ وي

ته به وایې

له اوږدې وبا نه وروسته هرسړي درنه بړستن د تورو خاورو اغوستلې

پیغلو نجونو هم ښایست وي لکه سور غمی ورغویو کې پټ کړی

میخانې پورې زنځیر وي زنګ وهلی

*****

زه بې تا لکه بې وخته لمبه شوی ځوان ماهی

پرانستې سترګې پټه خوله د خپل قاتل د وږو سترګو آیینوکې

په سکرو خپل رسم شوی تصویر ګورم

*****

ژوند بې تا لکه په غاښ باندې لوټ شوی بکارت د سرې مڼې دی

چخپیت شوی د عشق لیک دی

د خځلو

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په صندوق کې

یا د ګلو سره ګیډۍ ده

چیرته چا نه د یو پارک د څوکۍ مخې ته مړه شوې

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de

یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ